# د رَمَضَان شوق

# برقرار اوساتئ!

**29-April-2022**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

29 اپريل 2022ء په پاکستان هفته وار اجتماعاتو کښې شوے بيان

# د رَمَضَان شوق برقرار اوساتئ!

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ معنٰى ده ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو. نِيَّت د زړه ارادے ته وائي چې کله هُم جُمات ته د داخليدو سعادت درنصيب شي نو ياد ساتئ او د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو . اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الکريم د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي

ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُودِ پاك فضيلت

زمونږ د خوږ آقا مُحَمَّد مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چا چې په ما باندې سحر ماښام 10،10 ځله دُرُودِ پاك اولوستلو هغه ته به په ورځ د قيامت زما شفاعت نصيب شي.[1]

كهيں گے اور نبی اِذْهَبُوْا اِلٰی غَيْرِیْ | مرے حضور کے لَب پر اَنَا لَهَا ہو گا[2]

**وضاحت:** د قيامت په ورځ چې كله خلق د مختلفو انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلام په خدمت كښې د شفاعت سُوال د پاره حاضر شي نو ټول انبيائے كرام عَلَيْهِمُ السَّلام به دا اوفرمائي: اِذْهَبُوْا اِلٰی غَيْرِیْ يعني زما نه علاوه بل يو [نبـي] خوا له لاړ شئ! خو چې كله خلق د نبـي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمتِ اقدس كښې حاضر شي نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اوفرمائي: اَنَا لَهَا يعني د دې كار (يعني شفاعت) د پاره زه يم.

## د بيان اوريدلو نيتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه



1...مجمع الزوائد، كتاب الاذكار، جلد:10، صفحه:120، حديث:17022۔
2...ذوق نعت، صفحه:54۔

www.dawateislami.net

مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: " اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتينے نيت بهترين عبادت دے.[1]

اے عاشقانِ رسول! نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

❀ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوکړئ او نور دا نيتونه اوكړئ چې ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❀ چې څومره كيدے شي د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ❀ د علم زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ د بيان په دوران كښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❀ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو كوشش كووم.

## اَلْـوَداع اَلْـوَداع ماهِ رَمَضان...!!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! يو څو ورځې مخكښې خبره ده د رَمَضَانُ المُبارَك عاشقان په انتِظار كښې وو چې رَمَضَانُ المُبارَك راتلو والا دے ❀ د رَمَضَانُ المُبارَك تياري كيدله ❀ عبادت كوونكو د خپلو نيكو ډكه روزنامچه جوړوله ❀ رَمَضَانُ المُبارَك څنګه تيرول دي؟ د دې د پاره ئې مخكښې هدفونه ټاكل ❀ د رَمَضَانُ المُبارَك عاشقان ډير شوقين وو ❀ بيا د



[1]...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

www.dawateislami.net

الله پاك په كرم او فضل سره يوه ورځ راغله ❁ رُوح خوشحالوونكے يو غږ غوږونو واوريدو: مبارك شئ....!! د رَمَضَانُ المُبارَك مياشت ښكاره شوه ❁ د دې اعلان په اوريدلو زړه خوشحاله شو ❁ جماتونو كښې سپرلي راغله ❁ د تلاوت شوقين د قرآنِ كريم په تلاوت كښې مشغول شو ❁ د روژه ماتي او پيشمني خوشحالئ شروع شوې ❁ داسې د رحمت عشره د خپلو بركتونو تقسيمولو سره تيره شوه ❁ بيا د مغفرت عشره شروع شوه ❁ خوش نصيبه خلقو ته د خپل رحمان او رحيم ربّ د بارګاه نه د بخښني خيرات نصيب شو ❁ د رَمَضَانُ المُبارَك قدردانو خلقو د مغفرت عشرې بركتونه حاصل كړل ❁ بيا ډيره زر د مغفرت عشره هم رُخصَت شوه ❁ د دې سره د دوزخ نه د آزادئ عشره راغله ❁ اِعتِكاف كوونكي په ګڼ شمير سره جماتونو كښې مُعتكِف (يعني اعتكاف ته كيناستل) شو ❁ د اعتِكاف كوونكو ښكلا جوړه شوه ❁ آه! اوس د رَمَضَانُ المُبارَك دا آخرئ عشره هم ختميدو طرف ته روانه ده، آه! صد آه! نِزدې ده چې يو څو ورځې پس رَمَضَانُ المُبارَك زمونږ نه رُخصَت شي.

## د جُمُعَةُ الوَداع په بيان كښې ترې روح لاړو

يو بُزُرګ فرمائي: زه په رَمَضَانُ المُبارَك كښې د **جُمُعَةُ الوَداع** په ورځ د حضرت منصور بِن عَمَّار رَحمَةُ اللهِ عَلَيه په **محفل** كښې حاضر شوم، هغوئي چې

د رَمَضَانُ المُبارَك د روژو فضيلت، د شپو عبادت او په اخلاص سره د عبادت كوونكو د پاره چې كوم اجر تيار شوے دے، د هغې په باره كښې بيان كولو، د هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د بيان د اثر نه داسې لګيدله لكه چې د كوټلو كانړو نه اوړ ظاهريږي، خو د هغوئي په محفل كښې نه چا حركت اوكړو، نه چا په خپلو ګناهونو باندې پښيمانتيا ښكاره كړه، كله چې هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د محفل دا حالت اوليدلو نو اوئې فرمائيل: اے خلقو! آيا په خپلو عيبونو باندې خبردار خوك ژړا والا نشته؟ ❁ آيا دا د توبے او بخښنې غوښتلو مياشت نه ده؟ ❁ آيا دا د مُعافـئ او بخښنې مياشت نه ده؟ ❁ آيا په دې مياشت كښې د جنَّت دروازے نه بيرته كيږي؟ ❁ آيا په دې مياشت كښې د دوزخ دروازے نه بنديږي؟ ❁ آيا په دې مياشت كښې شيطانان نه قيد كيږي؟ ❁ آيا په دې مياشت كښې د اِنعام او اِكرام باران نه راوريږي؟ ❁ آيا په دې بركتي مياشت كښې الله پاك تَجَلِّـي نه فرمائي؟ ❁ آيا په دې بركتي مياشت كښې هره شپه د روژه ماتي په وخت لس لكه ګنهګاران د دوزخ نه نه آزاديږي؟ ❁ په تاسو څه شوي دي چې د دې عظيم ثواب نه ځان بخپله محرومه كوئ او د مخَالَفَت په جامه كښې تكَبُّر كوئ (مطلب دا چې عمل نه كوئ او په ګناهونو كښې مصروفه اوسئ) الله پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَفَسِحۡرٌ هٰذَاۤ اَمۡ اَنۡتُمۡ لَا تُبۡصِرُوۡنَ ﴿۱۵﴾ (پاره:27،سورۂ طُوۡر:15) | [مفهوم]ترجمۂ کَنزُالایمان: نو آیا دا جادو دے یا تاسو ګوړئ نه. |

(د دې نه پس منصور بِن عمَّار رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه اوفرمائیل:) ټول د الله پاك په دربار کښې حاضر شئ او توبه او استِغفَار اوکړئ! د هغوئي د اثر نه ډکې خبرې چې محفل کښې ناستو خلقو واوريدلې نو ټولو په زوره اوژړل، په دې کښې يو ځلمے په ژړا پاڅيدو او عرض ئې اوکړو: ياسَيِّدی! (يعني اے زما سرداره!) ارشاد اوفرمائې: آيا زما روژې قبولې شوې دي؟ آيا زما (د رَمَضان) د شپو عبادتونه به د قبول شوو عبادت ګزارو سره اوليکلے شي؟ حالانکه زما نه ډير ګناهونه شوي دي، ما خو خپل ټول عمر په نافرمانئ کښې برباد کړے دے، آه! زه د عذاب د ورځې نه غافله شوے ووم، حضرت منصور بِن عمَّار رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه اوفرمائیل: اے ځلميه! د الله پاك په بارګاه کښې توبه اوکړه، ځکه چې هغه په قرآنِ کريم کښې فرمائيلي دي:

| | |
|---|---|
| وَ اِنِّیۡ لَغَفَّارٌ لِّمَنۡ تَابَ (پاره: 16،سورۂ طٰهٰ:82) | [مفهوم] ترجمۂ کَنزُالایمان: او بے شکه زه ډير بخښنه کوونکے يم هغه چاته خوك چې توبه اوکړي. |

بيا حضرت منصور بِن عمَّار رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه قاري ته د دې آيتِ کريمه لوستلو حکم اوکړو:

| | |
|---|---|
| وَ هُوَ الَّذِیۡ یَقۡبَلُ التَّوۡبَۃَ عَنۡ عِبَادِہٖ وَ یَعۡفُوۡا عَنِ السَّیِّاٰتِ (پارہ:25، سورۂ شُوریٰ:25) | [مفهوم] ترجمۂ کَنزُ الایمان: او هغه دے خوک چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي او ګناهونه مُعاف کوي. |

هغه ځلمي د دې آيت په اوريدلو يوه تيزه چغه اوويستله او اوئې وئيل: زه ډير خوش قِسمته يم چې د الله پاك احسان ماته را رسيدلے دے خو د دې باوُجود ما نافرمانئ زياتې کړې او غلطه لاره مې پرې نښوده. آيا د تير شوي وخت په ځائ به بل وخت وي چې په هغې کښې الله پاك مُعافـي اوفرمائي؟ بيا ئې بله چغه اوويستله او د هغه رُوح د بدن نه جُدا شو (يعني هغه ځلمے وفات شو).

**عَلّامه حَرِيۡفَيش** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې ژړوونکـي حکايت ليکلو نه پس فرمائي: **زما ورونړو!** د رَمَضَانُ المُبارَك مياشت په جدائې ولے نه چې ژړا اوکړے شي...!! د مُعافئ او مغفِرت دا مبارکه مياشت رخصتيږي، په دې باندې ولے نه چې افسوس اوکړے شي! د دې مياشتې په جدائې باندې ولے نه چې غم اوکړے شي چې په دې کښې ګنهګارانو ته د دوزخ نه آزادي نصيب کيږي![1]

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**



1…الروض الفائق، صفحه:45۔

www.dawateislami.net

## د رمضان المبارک پاتې ساعتونه غنيمت اوګڼئ...!

اے عاشِقانِ رسول! الله پاك دې مونږ ته هم د رَمَضَانُ الْمُبارَك محبت او د هغې غم را نصيب كړې. د رَمَضَانُ الْمُبارَك يو څو ورځې پاتې دي، آه! دا مبارك ساعتونه به زر ختم شي، رَمَضَانُ الْمُبارَك به مونږ ته د جدائې غم راكولو سره رُخصَت شي، ځكه دا مبارك ساعتونه غنيمت اوګڼړئ، ښه توبه او اِستِغفار اوكړئ، چې خومره كيدے شي نيكئ اوكړئ چې په ژوند كښې به بيا د رَمَضَانُ الْمُبارَك مياشت نصيب شي او كه نه، د دې زمونږ سره څه ګارنټي نشته.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## شكر ګزار كانړے

اِمام ابُو القاسِم قُشَيري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليكي: د الله پاك يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام په يو لار تيريدو، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام په لاره كښې يو وړوكے كانړے اوليدلو، د هغې نه پرله پسې اوبه راوتلې او بهيدلې، د لوئ غر نه د چينې روانيدل يوه عامه خبره ده خو د وړوكي كانړي نه اوبه راوتل او بهيدل د حيرانتيا خبره ده، د الله پاك نبي عَلَيْهِ السَّلَام چې د كانړي نه د اوبو راوتلو دا منظر اوليدلو نو حيرانه شو نو الله پاك هغه كانړي ته د خبرو كولو طاقت وركړو، كانړي

عرض اوکړو: اے د الله پاك نبـي عَلَيْهِ السَّلام! د کله نه چې زه خبر شوے يم
چې د دوزخ خشاك انسانان او کاڼړي دي، تر هغه وخت نه زه د الله پاک د
ويرې نه ژاړم، [اے د الله نبـي عَلَيْهِ السَّلام] تاسو چې کومې اوبه زما نه په
وتلو وينئ، دا اوبه نه دي بلکه زما اوښکې دي، د کاڼړي دا دردمندې
خبرې چې ئې واوريدلې نو د الله پاك د نبـي عَلَيْهِ السَّلام [په هغه کاڼړي
باندې] رحم راغے، هغوئي عَلَيْهِ السَّلام لاس اوچت کړل، د الله پاك په بارګاه
کښې ئې دُعا اوکړه: يا الـلّـه پاکه! دا کاڼړے د دوزخ د اور نه بچ کړې.
الله پاك د هغوئي دُعا قبوله کړه او فورًا ئې وحي رااوليږله چې مونږه هغه
کاڼړے د دوزخ د اور نه آزاد کړو. د الله پاك نبـي عَلَيْهِ السَّلام کاڼړي ته
زيرے واورولو او مخکښې ئې تشريف يوړلو، کله چې بيرته راغلو نو اوئې
ليدل چې د کاڼړي نه اوس هم اوبه رواني دي، د الله پاك نبـي عَلَيْهِ السَّلام
ترې تپوس اوکړو: تاته خو د دوزخ نه د آزادئ زيرے ميلاؤ شوے دے،
څه مُعامَله ده؟ اوس ولے ژاړې؟ کاڼړي عرض اوکړو: ذٰلِکَ کَانَ بُکَاءَ الْخَوْفِ وَ
هٰذَا بُکَاءُ الشُّکْرِ يعني مخکښې مې د خوفِ خُدا په وجه اوښکې رواني وې
او اوس د شکرانے اوښکې بهيووم.[1]

323

1...رساله قشيريه، کتاب الشکر، صفحه:213۔

www.dawateislami.net

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د الله پاك په فضل او كرم سره مونږ ته هم د رَمَضَانُ المُبارَك مياشت نصيب شوه، اګرچې په مونږ كښې هيڅوك يقيني طور نه شي وئيلے چې زما مغفرت شوے دے، البته مونږ ته د مغفرت ډيره لويه ذريعه نصيب شوې ده ❀ د رَمَضَانُ المُبارَك هر هر ساعت بركت والا دے ❀ په رَمَضَانُ المُبارَك كښې هره ورځ د روژه ماتي په وخت لس لاكه داسې ګنهګاران بخښلے كيږي په چا چې جَهَنَّم واجب شوے وي ❀ او د جُمُعې په ورځ خو په هر هر ساعت كښې د لس لس لاكه انسانانو بخښنه كيږي. كاش! زمونږه شمير هم په دغه بخښلے شوو خلقو كښې اوشي.

خير! الله پاك مونږ ته د بخښنې داسې ذريعه را عطا كړې ده، په مونږه باندې لازم دي چې په ژبه هم د دغې شكر ادا كړو او ورسره ورسره عملي طور هم د شكر ادا كولو د پاره د ګناهونو نه ځان بچ كړو، رَمَضَانُ المُبارَك مياشت اوس د يو څو ورځو ميلمنه ده، زر به رخصت شي، اصل د رَمَضَانُ المُبارَك شُكر دا دے چې مونږه د رَمَضَانُ المُبارَك نه پس هم د رَمَضَانُ المُبارَك شوق برقرار اوساتو او د ګناهونو نه ځان بچ كړو او د نيكو نه ډك ژوند تير كړو. كاش! چې د رمضان المبارک په بركت سره ټول كال مونږ ته لمونځونه د تكبيرِ اُولىٰ سره د جمات وړومبي صف كښې د ادا كولو

سعادت نصيب شي، زمونږ نه چرې هم لمونځ قضا نه شي، د تلاوتِ قرآن شوق هم مونږ کښې پاتې شي، الله پاك دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## شُکر څه ته وائي؟

د اِمامُ الطَّائِفَه (يعني د اوليائے کرامو امام) حضرت جُنيد بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عمر مبارك اووه کاله وو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د حضرت سِرِّی سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې اوسيدلو، يوه ورځ حضرت سِرّی سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف فرما وو، نور خلق هم حاضر وو، د شُکر په باره کښې خبره روانه وه، حضرت سِرّی سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حضرت جُنيد بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته اوفرمائيل: بچيه! ته اووايه! شُکر څه دے؟ حضرت جُنيد بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرض اوکړو: اَنْ لَّا تَعْصِیَ اللّٰهَ بِنِعْمَةٍ يعني د نعمَت په بدله کښې د الله پاك نافرماني نه کول شُکر دے.[1]

معلومه شوه چې اصل شُکر خو دا دے چې انسان ته نِعمَت ميلاؤ شي نو په ګناهونو کښې د مصروف کيدلو په ځائ د الله پاك فرمانبرداره جوړ شي.



1…رساله قشيريه، کتاب الشکر، صفحه:212۔

www.dawateislami.net

اللّٰہ پاك دې مونږ ته د رَمَضَانُ المُبارَك د مياشتې په نعمتونو باندې د ډير ډير شكرا ادا كولو، د رَمَضَانُ المُبارَك نه پس د رَمَضَانُ المُبارَك ذوق برقرار ساتلو او د نيكو نه ډك ژوند تيرولو توفيق را عطا كړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د نيكانو خلقو يوه دُعا

اللّٰہ پاك په قرآنِ كريم كښې د عقلمندو او نيكانو خلقو يوه دُعا ذِكر كړې ده، ارشاد دے:

رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا وَ هَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۸﴾

(پارہ:3،سورۂ آلِ عمران:8)

[مفهوم] ترجمۂ كَنزُ الايمان: اے ربه زمونږه، زړونه زمونږه كاږه مه كړې د دې نه وروسته چې تا مونږ ته هدايت راكړے دے او مونږ ته د خپل جانبه رحمت راعطا كړې بے شكه ته ډير وركوونكے ئې.

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! په رَمَضَانُ المُبارَك كښې زړونه هدايت مومي ✿ د لمُونځ گزارو او ✿ تلاوت كوونكو شمير زياتيږي ✿ د تراويح ✿ اعتِكاف ✿ صدقه ✿ خيرات ✿ د مسلمانانو سره د خير ښيگړې وغيره قِسما قسم نيكو كښې د نورو مياشتو په نسبَت زياتوالے كيږي، يقيناً دا هدايت دے،

بیا مونږ له پکار دي چې مونږه هم د الله پاك په بارګاه کښې دُعا اوکړو او کله کله د زړه په حاضرئ سره دا دُعاګانے لولو چې یا الله پاکه! په رَمَضَانُ المُبارَك کښې د هدایت نُور نصیب شو، د نیکو جذبه زیاته شوه، د لمُونځونو توفیق میلاؤ شو، اے زمونږه خوږه الله! په مونږه کرم اوکړې، کومې خطاګانے چې شوې دي، په قص یا په هیره کوم ګناهونه شوي دي هغه مُعاف کړې او په رَمَضَانُ المُبارَك کښې چې کوم د عبادتونو شوق زیات شوے دے، په دې کښې نوره ترقي او ثابت قدمي را نصیب کړې.

چې د الله پاك په بارګاه کښې دُعاګانے کوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! کرم به اوشي، په نیکو باندې به استقامت هم نصیب شي.

## د رَمَضَانُ المُبارَك یو مقصد: د نَفْسِ اَمَّاره اِصلاح

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! الله پاك د رَمَضَانُ المُبارَك روژې ولے فرض کړې دي، علمائے کرامو د دې ډېر حکمتونه لیکلي دي، په هغې کښې یو حکمت دا دے چې د روژې نیولو په برکت د نَفْسِ اَمَّاره (یعني د ګناهونو د پاره د راپاروونکي نفس) اصلاح کیږي او د تقوٰی دولت نصیب کیږي.

زمونږه دوه غټ دُښمنان دي: **(1)** شيطان **(2)** نَفْسِ اَمَّاره. د رَمَضَانُ الْمُبارَك په مياشت کښې شيطان خو قيد کړے شي، پاتې شو نَفْسِ اَمَّاره نو د دې زور ماتولو د پاره مونږه روژې نيسو، لوږه، تنده راته لګي، د دې باوُجود مونږه خوراك څښاك نه کوو، سحر د پيشمنې نه تر ماښام روژه ماتې پورې د نَفْسِ اَمَّاره د خواهشاتو نه ځان بچ ساتو، د دې سره د نَفْسِ اَمَّاره زور ماتيږي او اصلاح ئې کيږي.

معلومه شوه د رَمَضَانُ الْمُبارَك مقصدونو نه يو اهم مقصد د نَفْسِ اَمَّاره اصلاح ده، ځکه د رَمَضَانُ الْمُبارَك شوق برقرار ساتلو د پاره ضروري دي چې مونږه د رَمَضَانُ الْمُبارَك نه پس هم د نَفْسِ اَمَّاره په اصلاح باندې توجه ورکړو.

## د نَفْسِ اَمَّاره د اِصلاح طريقه

حضرت شيخ فريدُ الدِّين عَطَّار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: نفس په قابو کښې د راوستلو د پاره د دريو وسلو ضرورت دے: **(1)** د خاموشئ خنجر **(2)** د لوږې توره **(3)** د تنهائي او ګنرې پريښودو نيزه. چې دا درې وسلے وي نو نَفْسِ اَمَّاره قابو کيدے او د هغې اصلاح کيدے شي.[1]



1…پند نامه عطار، صفحه:25۔

www.dawateislami.net

اے عاشِقانِ رسول! که مونږه په باقي 11 میاشتو کښې هم د رَمَضَان شوق برقرار ساتل غواړو نو دا درې کارونه مستقل طور خپل کړئ. **نمبر1 د خاموشۍ خنجر.**

## د خاموشۍ فضائل

زمونږ خوږ آقا مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: کوم بنده چې په الله پاك او آخرت باندې اِیمان ساتي، هغه له پکار دي چې ښې خبرې اوکړي یا خاموشه پاتې شي.[1]

صحابۍ رسول حضرت اسوَد رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: ما د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې عرض اوکړو: یَـارَسُولَ الـلّٰـه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ماته نصیحت اوفرمائې! خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: آیا ته خپله ژبه په قابو کښې ساتلے شې؟ ما عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! که زه په خپله ژبه باندې هم قابو اونه ساتم نو په بل کوم څیز به ساتم؟ سردارِ انبیاء، محبوبِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: آیا ته په خپلو لاسونو قابو ساتلے شې؟ ما بیا عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! که زه په خپلو لاسونو باندې هم قابو اونه ساتم نو په بل کوم څیز به ساتم؟ بیا خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم



1… بخاری ،کتاب الرقائق، باب حفظ اللسان، صفحه:1592،حدیث: 6475۔

اوفرمائيل: بس په خپله ژبه هميشه ښې خبرې کوه او ستا لاسونه دې د خير نه علاوه بل طرف ته اوچت نه شي.[1]

حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي چې زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د بنده اِيمان نه ټيك کيږي ترڅو پورې چې زړه نه وي ټيك شوے او د بنده زړه ټيك کيدے نه شي ترڅو پورې چې د هغه ژبه ټيك شوې نه وي.[2]

## ژبه د زهرژن مار په شان ده

تقريباً 18 زره عالَمَه دي، خوب هم يو عالَم دے چې ورته عالَمِ رُؤيا وئيلے کيږي. په عالَمِ رُؤيا (يعني خوب) کښې زمونږ د ژبې نه وتونکي الفاظ د مار په شکل کښې ښودلے کيږي. اِمام اِبنِ سِيرِين رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د عِلمِ تعبير ډير لوئ اِمام دے، هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: که يو انسان په خوب کښې اووينې چې د هغه د خُلے نه مار اووتلو نو د هغې تعبير دا دے چې د دې بنده د ژبې نه به داسې لفظ اوځي چې د ده د پاره به د هلاکت سبب جوړ شي.[3]

323

1…معجم کبير، جلد:1، صفحه:218، حديث:816۔

2…مسند امام احمد، مسند انس بن مالك، جلد: 5، صفحه: 432، حديث:12897۔

3…تعبير الرؤيا (مترجم)، صفحه:414۔

الـلّٰـه! الـلّٰـه! اے عاشِقانِ رسول! اندازه اولګوئ! مار زهرژن ځناور دے، دغه شان زمونږه ژبه هم خطرناك اندام دے، ژبه د 32 غاښونو په ځوکئ کښې ساتلے شوې ده، د دې باوُجود دا په قابو کښې نه راځي، کله چې دا زهر را اوباسي نو صرف ځان نه هلاك کوي بلکه بعضې وخت اِيمان ته هم سخت نقصان رسوي.

## د يو غلط لفظ نُقصان

زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: انسان (په نيکو کولو) جنَّت ته نِزدې کيږي، تر دې چې د هغه او د جنَّت په مينځ کښې د يو ګز فاصله پاتې شي، بيا هغه بنده په خپله ژبه داسې لفظ ادا کړي چې د هغې په وجه هغه د جنَّت نه لرې کړے شي.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليدل! ژبه څومره خطرناك څيز دے، اللّٰه پاك دې مونږ ته د ژبے حفاظت را نصيب کړي. د نَفْسِ اَمَّاره د اصلاح د پاره وړومبئ وسله کومه چې ډيره ضروري ده، هغه د خاموشئ خنجر دے، خاموشي اختيار کړئ، د ژبې صحيح استعمال اوکړئ، د وئيلو نه مخکښې د سوچ کولو عادت جوړ کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د نَفْسِ اَمَّاره اصلاح به اوشي او د رَمَضان شوق به مو برقرار پاتې شي.



1...مسند امام احمد، مسند الانصار، جلد:9، صفحه: 469، حديث:23843۔

www.dawateislami.net

## د لوږې فضائل

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نَفْسِ اَمَّاره د اِصلاح د پاره دويمه وسله د لوږې تُوره ده. اِمام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: يعني لوږه زمونږه اصل مال دے. مطلب دا دے چې اوليائے کرامو ته کومه فراخي، سلامتيا، د عبادت خوند او علمِ نافِع حاصليږي، دا ټول د الله پاك د رِضا د پاره د لوږې برداشت کولو په سبب حاصليږي.[1]

لوږه د الله پاك د خزانو نه يوه خزانه ده کومه چې الله پاك صرف خپلو خوښو بندګانو ته عطا کوي.

اے عاشِقانِ رسول! څنګه چې مونږه په رَمَضَانُ المُبارَك کښې روژې نيسو او ټوله ورځ لوږه تنده برداشت کوو، د رَمَضَانُ المُبارَك شوق برقرار ساتلو د پاره چې د رَمَضَانُ المُبارَك نه پس هم لوږه او تنده برداشت کړو، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! د نَفْسِ اَمَّاره زور به مات شي او تقوٰی به نصيب شي.

## د نفل روژو فضائل او فائدے

د لوږې برکتونو حاصلولو بهترين انداز روژه ده. کوشش اوکړئ، د رَمَضَانُ المُبارَك نه پس هم د نفل روژو سلسله جاري اوساتئ نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! پوره کال به د رَمَضان شوق برقرار پاتې شي.

323

1...منهاج العابدين، صفحه:229۔

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ثوك چې د رضائے اِلٰهي د پاره يوه ورځ نفلي روژه اونيسي نو الله پاك به د هغه او د دوزخ تر مينځه د يو تيز تلونكي سور كس د 50 كالو فاصلې پورې لرې كړي.[1]

حضرت ابُو اُمامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما عرض اوكړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ماته داسې عمل اوښائې چې د هغې په وجه جنَّت ته داخل شم. اوئې فرمائيل: روژه [نيول] په خپل ځان لازم كړه ځكه چې د دې په مثل بل يو عمل نشته. راوی وائي: د حضرت ابُو اُمامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په كور كښې د ورځې د ميلمه د راتلو نه علاوه كله هم لوګے نه دے ليدلے شوے (يعني هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د ورځې خوراك نه كولو او روژې به ئې نيولې).[2]

## د اختر د شپږو روژو درے فضائل

اے عاشقان رسول! د رمضان المبارک نه پس شوال شروع كيږي، د شوالُ المكرم په خاص طور شپږ روژې، كومو ته چې د اختر نه پس شپږ روژې



1…كنز العمال، كتاب الصوم، باب الثاني في صوم النفل، جزء: 8، جلد: 4، صفحه: 255، حديث: 24149۔
2…صحيح ابن حبان، جلد: 5، صفحه: 179، حديث: 3416۔

www.dawateislami.net

هم وئيلے شي، د دې روژو نيولو ډير فضيلت دے، راځئ! دې باره کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې فرامين اورو:

**(1)** چا چې د رَمَضَانُ المُبارَك روژې اونيولې بيا ئې 6 ورځې په شَوَّال کښې روژې اونيولې نو د ګناهونو نه داسې اووتلو لکه چې نن د مور د خيټې نه پيدا شوے وي.[1]

**(2)** چا چې د رَمَضَانُ المُبارَك روژې اونيولې بيا ئې د هغې نه پس 6 ورځې په شَوَّال کښې روژې اونيولې نو داسې ده لکه چې زمانه (يعني ټول عمر) ئې روژه کړې وي.[2]

**(3)** چا چې د وړوکي اختر نه پس (په شَوَّال يعني وړوکي اختر مياشت) کښې 6 روژې اونيولې نو هغه د ټول کال روژې اونيولې چې څوك يوه نيکي اوکړي نو هغه ته به لس ميلاؤ شي نو د رَمَضَانُ المُبارَك روژه د لسو مياشتو برابر ده او د دې 6 ورځو په بدله کښې دوه مياشتې شوې نو د پوره کال روژې شوې.

323

1…مجمع الزوائد، کتاب الزکاۃ، باب فیمن صام رمضان، جلد:3، صفحه:425، حديث:5102۔
2…مسلم، کتاب الصيام، باب استحباب صوم ستة ايام...الخ، صفحه:424، حديث:1164۔

عالمان فرمائي: غوره دا ده چې دا روژې مُتَفَرِق (بیلې بیلې بدلو ورځو کښې) اونیولے شي او که د اختر نه پس پرله پسې شپږو ورځو کښې یو ځائے اونیولے شي، بیا هم څه باک نشته-[1]

خلیلِ مِلَّت حضرت علامه مولانا مفتـي محمد خلیل خان قادري برکاتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا روژې که د اختر نه پس پرله پسې یو ځائ اونیولے شي، بیا هم څه باك نشته او بهتره دا ده چې جدا جدا اونیولے شي یعني (لکه) په هره هفته کښې دوه روژې او د وړوکي اختر په دویمه ورځ یوه روژه اونیولے شي او که په پوره میاشت کښې اونیولے شي نو بیا هم مناسب معلومیږي. [2] غرض دا چې د وړوکي اختر ورځ نه پس په ټوله میاشت کښې چې کله هم غواړئ شپږ روژې نیولے شئ.[3]

## په قرآن باندې د ځان پوهه کولو کوشش جاري اوساتئ!

په دویمه سیپاره، سورۀ بـقره، آیت: 185 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْۤ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ بَیِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَ الْفُرْقَانِۚ (پاره:2،سورة | [مفهوم] ترجمۀ كَنْزُ الايمان: د رَمَضان میاشت چې په دې کښې قرآن نازل شو د خلقو د پاره هدایت او رهنمائي او |



1…رد المحتار،کتاب الصوم،مطلب:فی صوم الست من شوال،جلد:3،صفحه:485۔
2…سنی بهشتی زیور،صفحه:347۔
3…فیضان رمضان،صفحه:371 بتغییر قلیل ۔

بقره:185) | د فيصلې روښانه خبرے.

عُلمائے کرام فرمائي: په دې آيتِ کريمه کښې د رَمَضَانُ المُبارَك د روژو فرض کيدو حکمت بيان شوے دے، هغه حکمت دا دے چې د رَمَضَانُ المُبارَك مياشت هغه مياشت ده په کومه کښې قرآنِ کريم نازل شوے دے. بيا الله پاك د دې روژې فرض کړې! څکه چې د روژې نيولو، لوږې او تندې برداشت کولو په برکت عقل تيزيږي، څکه د قرآن نازليدو په مياشت کښې روژې فرض کړے شوې چې خلق روژې اونيسي، د هغوئي د پوهې قُوَّت مضبوط شي او د دې په برکت په قرآن باندې پوهيدل آسان شي.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چې د رَمَضَانُ المُبارَك يو لوئ مقصد د قرآنِ کريم سره تَعَلُّق خپلول، قرآنِ کريم لوستل، په دې باندې د ځان پوهه کولو ښه کوشش کول هم دي. که مونږه د رَمَضان شوق برقرار ساتل غواړو نو په مونږه باندې لازم دي چې مونږه د رَمَضان د مياشتې نه پس هم قرآن کريم لولو، په دې ځان پوهه کړو او د دې سره خپل تَعَلُّق مضبوط اوساتو. که مونږه د رَمَضانُ المُبارَك نه پس هم خپل تَعَلُّق مضبوطولو کښې کامياب شو نو د الله پاك په فضل او کرم سره به اِنْ

شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د رَمَضان شوق برقرار پاتې شي، زړه به روښانه شي او د نَفْسِ اَمَّاره اصلاح به هم اوشي. اللّٰه پاك دې مونږ ټولو ته د عمل كولو توفيق راكړي.اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اے عاشِقانِ رسول! الحمد لله! د عاشقان، رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ټوله دنيا كښې فيضانِ قرآن عام كولو كښې مصروفه دے- ❁د دعوتِ اسلامي د انتِظام لاندې په ملك او بهر ملكونو كښې په سوؤنو مدارسُ المدينه بالغان لګي، كومو كښې چې د زيات عمر اسلامي ورونړو ته صحيح تجويد او د مخارج سره سره د قرآنِ كريم لوستل او مختلف سنتونه او آداب ښودلے شي- كه چرې تاسو هم مدرسةُ المَدينه بالغان كښې د سبق ښودلو اهليت لرئ نو د سبق ښودلو ګنې بيا د زده كولو نيت اوكړئ-

❁ داسې د دعوتِ اسلامي د انتظام لاندې چليدونكي جامعاتُ المَدينه كښې په يوه نزدې جامعةُ المَدينه كښې داخله واخلئ. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! اوس د رَمَضَانُ المُبارَك نه پس به د درسِ نِظامي نوي كلاسونه شروع كيږي، د جامعةُ المَدينه داخلے شروع دي، هِمَّت اوكړئ، په جامعةُ المَدينه كښې داخله واخلئ، درسِ نِظامي يعني عالِم كورس اوكړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! په قرآنِ كريم باندې پوهيدل به درته نصيب شي، د دې سره

سره بخاری شريف، مسلم شريف، فتاوٰی شامی، احياءُ العلوم، فتاویٰ رضويه شريف وغيره د عِلمِ دين غټو غټو کتابونو لوستلو سره به نورو ته ښودونکي هم جوړ شئ. ❁ دعوتِ اسلامي مونږ ته د دې آن لائن جامعةُ المَدينه آساني هم راکوي، د آن لائن جامعةُ المَدينه په ذريعه تاسو خپلو کورونو کښې هم درس نظامي کولے شئ- ❁د جامعةُ المَدينه د انتظام لاندې د پاکستان بعضې ښارونو کښې د ښځې جامعةُ المَدينه هم چليږي- کومو کښې چې نوکرئ کوونکي، د يونيورسټئ او کالجونو طالب علمان او د کاروباري مصروفياتو لرونکو د پاره د درس نظامي او دوه کاله کورس د ماښام کورس کښې داخله واخلئ او علم زده کړئ، الله پاک دې د عمل کولو توفيق رانصيب کړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د صراطُ الجنان لوستلو او د ايپلي کيشن د استعمال ترغيب

اے عاشِقانِ رسول! نن سبا د ټيکنالوجي دور دے، تقريبًا د هر يو سره انيډ رائډ يا آئي فون موبائل دے، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي مونږ ته د موبائل په ذريعه هم د علمِ دِين زده کولو او د نيکئ دعوت عام کولو موقعې راکوي. مَثَلاً د دعوتِ اسلامي آئي.ټی ډيپارټمنټ له طرفه يو زبردست موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، چې نوم ئې **Quran**

(اَلْقُرْآن مَعَ تفسِيْر) ***with Tafseer*** دے. دا ايپلي کيشن د ***Android*** او ***IOS*** دواړه قسمه ډيوائس نه ډاؤن لوډ کولے او په آسانه استعمالولے شئ. په دې ايپلي کيشن کښې ❀ مکمل قرآن کريم ❀ د اعلىٰ حضرت، اِمامِ اهلسُنَّت شاه اِمام احمد رضا خان ليکلے شوې ترجمه کنز الايمان ❀ د نوي دور د تقاضو مطابق ډيره آسانه ترجمه، ترجمه کنز العرفان او ❀ په آسان انداز کښې په اردو کښې د ټولو نه نوے تفسير **تفسير صراط الجنان** شامل دي. تاسو که هر چرته ئې د دې ايپلي کيشن په مدد سره قرآنِ کريم، ترجمه او تفسير په آسانئ سره لوستے هم شئ او ځان پرې هم پوهه کولے شئ، د دې سره سره قرآني آيتونه، ترجمه او تفسير په واټس ايپ، فيس بُك وغيره باندې خپلو دوستانو ليږلے هم شئ. د ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، علمِ دين زده کړئ او نورو ته د رسولو سره د نيکئ د دعوت عام کولو ثوابونه اوګټئ او د دې برکتونه حاصل کړئ او نورو ته ئې هم ترغيب ورکړئ.

## 12 ديني کارونو کښې يو دِيني کار: مَدَني قَافِله

**اے عاشقانِ رَسُول!** د نيک جوړيدلو، د ګناهونو نه بچ کيدلو او ټول کال د رمضان المبارک شوق په ځائے ساتلو او نيکو کښې د وخت تيرولو د پاره د عاشقان رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره تړون اوساتئ او د ذيلي حلقے په دولسو ديني کارونو کښې پوره حصه

واخلئ- اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم! د دین او دنیا بے شماره برکتونه به درنصیب شي- د ذیلي حلقے په دولسو کارونو کښې یو دیني کار مدني قافله هم ده- تاسو هم د عاشقانِ رسول سره مدني قافلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ، د عاشِقانِ رَسُول صُحبت به میلاؤ شي، عِلمِ دِین زده کول به درنصیب شي، د نیکو کولو او د ګناهونو نه د بچ کیدلو ذِهن به مو جوړ شي او د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې د سُنَّتِ انبیائے کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلَام یعني د نیکئ دعوت عام کولو موقع به درنصیب شي-

## د ګناهونو نه خلاص شو

د یو اِسلامي ورور د بیان خلاصه ده چې زه د دعوتِ اسلامي دِیني ماحول ته د راتلو نه مخکښې په ګناهونو کښې اختهووم، شراب څښل، د مور او پلار زړه آزارَوَل او لمونځونه قضا کول زما معمول وو، یو ځل زما خورئي [یعني د خور ځوئ] ماته مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، ما د لم لیټ نه کار اخستو خو هغه هِمَّت اُونه بائیلو او مسلسل ئې دعوت راکولو، آخر زه یو ځل د مَدَني قافلے مسافر جوړ شوم، د مَدَني قافلے په دوران کښې د نیکئ دعوت او د سُنَّتو ډکو بیانونو اوریدلو موقع په لاس راغله، ورسره ورسره راته د شیخِ طریقت، امِیرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا محمد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوِي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د مختلفو رسالو لوستل هُم

نصيب شو، بس د دې تهولو څيزونو په ما داسې اثر اوشو چې په زړه كښې مې انقلاب راغلو، ما د ګناهونو نه رښتيني او پخه توبه اوكړه، شراب څښل مې پريښودل، لمُونځونه كول مې شروع كړل او د مور او پلار فرمانبرداره جوړ شوم، اَلْحَمْدُ لِله! د مَدَني قافلے په بَرَكت مې ګِيره پريښوده، د عِمامے شريفې تاج مې په سر كړو، اوس زه په يو جُمات كښې مُـؤَذِّن يم او اَلْحَمْدُ لِله پينځه وخته لـمونځ د جَمعې سره د ادا كولو سعادت حاصلووم۔

## د روژې په حالت كښې د قے كولو احكام

اے عاشِقانِ رسول! كه د روژې په حالت كښې بخپله هر څومره قے (يعني اُلټئ) اوشي (خواه بالټے ډك ولې نه شي) د دې سره روژه نه ماتيږي ❁ كه روژه ورته ياده وي او په قَصد ئې اُلټئ اوكړې، كه په ډكه خُله وې نو اوس روژه ماته شوه ❁ قصداً په ډكه خُله اُلټو كولو سره به په هغه صورت كښې روژه ماتيږي چې په اُلټو كښې خوراك يا اوبه يا تروے اوبه يا وينه راشي ❁ كه په ډكه خُله اُلټو كولو كښې صرف بلغم راغله نو روژه نه ماتيږي ❁ په قصد ئې اُلټئ اوكړې خو لږې، په ډكه خُله رانغلې نو اوس روژه ماته نشوه ❁ د ډكې خُلے نه لږې اُلټئ اوشوې او د خُلې نه

بيرته لاړې يا ئې پخپله بوتلې، په دې دواړو صورتونو كښې به روژه نه ماتيږي ❀ كه په ډكه خُله اُلټئ بے اختياره اوشوې نو روژه به نه ماتيږي البته كه د دې نه د چنړې برابر هم بيرته لاړو نو روژه به ماته شي او د چنړې د دانے نه لږ وو نو روژه ماته نشوه.

د رَمَضَانُ المُبارَك فضائل او د روژو مُتَعَلِّق تفصيلي احكامات او مسائلو زده كولو د پاره د شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ښكلے كتاب " فيضانِ رَمَضان " اولولئ! الله پاك دې د عمل كولو توفيق را عطا كړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه

قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

323

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د بَعضو بُزرگانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې

323

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْكَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاۃ...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

3... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵

www.dawateislami.net